# د ماشومانو حقونه

# او

# د والدينو مسؤليتونه

د والدينو او ماشو مانو لپاره يو لارښود چې د ماشومانو په اړه قوانين تشريح کوي
او ځينې کارونه چې بايد تر سره شي او ځينې چې بايد دهغوی مخنيوی وشي

## خلاصه

که تاسې د والدینو په صفت د ماشومانو د مراقبت مسؤ لیت لرئ ، ستاسې تر ټولو مهمې دندې دا دي:

- ماشوم ته یو کور برابر کړئ
- د ماشو م حفاظت او ساتنه وکړئ

تاسې د دې شیانو لپاره هم مسئول یاست:

- ماشوم ته دیسپلین ښوول
- د ماشوم لپاره تعلیم انتخابول او هغه تعلیم ماشوم ته برا برول
- د ماشو م د طبي درملنې لپا ره رضا یت ورکول
- ماشو م باندې نوم کښېښودل او د نوم د بدلولو لپاره رضایت ورکول
- د ما شوم مراقبت په صحیح طر یقه کول

والدین باید اطمینان حاصل کړي چې د هغوی ماشومانو سره په مالي توګه مرسته کیږي ، دا فرق نه کوي چې هغوی د وا لیدنو په صفت د ماشو مانو لپاره مسؤلیت لري او که نه.

## د ۱۹۸۹ کال د ماشوما نو په اړه قا نون

په خاصه تو ګه ماشو ن خاص حقو نه لري چې د برینا نیې حکومت باید د هغه محا فظت وکړي ځکه د د ماشومانو د حقو نو (CRC) په مجلس کې هغه یو غړی دی.

د ماشو مانو د حقونو لپاره د ملګرو ملتونو مجلس (UNCRC) د بشري حقونو یو بین ا لمللي تړون دی چې په هغه کې بریتا نیا د یوې مرسته کوونکې په صفت ده چې ټولو هغو ماشو مانو ته چې ۱۷ کلن یا تر هغه پورته وي هغوی ته اجازه ورکو ي چې د حقونو یوه بشپړه مجموعه ولري.

ما شومان خاص حقونه لري ځکه چې هغوی د ناوړې ګټې اخیستنې او سو استفادې پر وړا ندې نور هم زیان منونکي دي. په خاص توګه ماشومان حق لري چې بې له کوم تشد د ځخه ژوند وکړ ي ، هغوی محفوظ وي او تعلیم او صحي مراقبت ته لاسر سی ولر ي.

## د والدینو مسؤلیت

د ۱۹۸۹ کال د قا نون یوه بله کلید ي قاعده دا ده چې د ماشو مانو تر ټولو بهتر ین مرا قبت د هغوی د خپلو کورنیو په منځ کې کیږي او د هغوی وا لدین د هغوی په ژو ند کې یو پوره رول لو بوي ، بې له دې چې د کورنۍ په ژوند کې د یوې ا جبار ي مداخلې ضرو رت وي. هغه قا عدې په لاند ینو برخو کې لیدل کیدا ی شي:

- د والدینو د مسؤلیت په اړه عقیده
- د هغه پلار توانا یی چې واده یې نه وي کړي او د مور په توافق سره هغه مسؤ لیت شریک کړي ، د ماشوم د زیږیدو پر مهال په مشترک توګه د راجسترولو له لارې یا د محکمې د حکم په اساس.
- ځایي قونسل د داسې خدما تو برابر ولو سره عمل کوي چې د ماشو مانو او د هغوی د کورنیو سره مرسته وکړي.

په اسا سي توګه ټولې مېندې د والدینو په صفت د ماشو مانو مسؤ لیت لري. یو پلار چې د یو ماشوم د مور سره یې واد ه کړی وي هغه هم د و الدینو مسؤلیت لري . او هم پلار یې چې د ماشوم د ز یږېدلو په اسناد کې ثبت وي.

دا فر ق نه کوي چې تا سې د وا لدینو په صفت ماشوم لپاره مسؤ لیت لرئ او که نه ، که هغه ماشوم ستاسې په مرا قبت کې وي تاسې د هغه ماشوم د هوسا ینې لپاره مسؤل یاست.

د وا لدینو مسؤ لیت تا سې ته حق در کوي چې دد ې په هکله نظر ور کړئ چې څنګه ستا سې ماشو م لو ی شي. په دې کې دا پر یکړې شاملې دي چې هغوی چیرې ژوند کوي، کوم ښوونځي ته ځي ، د هغوی د طبي درملنې او د مذهب په هکله پرېکړې.

## د یو بل چا ماشوم مرا قبت کول

یو ماشوم چې ستا سې تر مراقبت لاندې دی کېدا ی شي د بل چا ماشوم وي. په داسې موا ردو کې تا ی ې د ماشوم د هوسا ینې د تضمین لپاره مسؤ ل یاست او دا چې په هر وخت کې د زیان رسېدو څخه د هغه / د هغې ساتنه وکړئ. تا مسؤل یا ست چې دا اطمینا ن تر لا سه کړئ چې ماشوم د هوا په مناسب سم کالي اغوستي وي. که ما شوم ټپي شي دا ستاسې دنده ده چې اطمینا ن حاصل کړئ چې ما شوم د ډاکتر له خوا وکتل شي ، حتا که تاسې فکر کوئ چې کېدا ی شي ټپ دومره لوی نه وي. تاسې باید د ماشوم د حفظ الصحې په برخه کې هم اطمینان حا صل کړئ او ماشو م ته په منظم ډول سره ډوډۍ ورکړئ.

هغه ما شوم چې ستا سې تر مراقبت لاند ې وي د هغه هوساینه ، روغتیا او خوند یتوب لپاره تاسې مسؤلیت لرئ.

که تاسې د یو ماشو م مراقبت کوئ او تاسې د هغه ماشوم نیکه یا انا ، خاله ، کاکا ، ورور ، خور یا د کورنۍ ملګری یاست او د هغه ماشوم اصلي والدین د هغه مراقبت نشي کولا ی ، تاسې د کورنۍ او ملګری مراقبت کوونکي په نامه یادیږئ.

## تعلیم او ستا سې ماشوم

**تعلیم د ماشوم د ودې لپاره یو تر ټولو مهمه برخه ګڼل کیږي**

د وا لدینو څخه توقع کیږ ي چې د خپل د ماشو مانو په تعلیم کې یو ه برجسته او حمایتي رول ولو بوي . د والدینو څخه دا توقع هم کیږ ي چې د پرمختګ را پو ر لپاره په منظم ډول سهر ښوو نکو سره وګوري او د خپلو ماشو مانو سره د هغوی دکور نۍ دندې مرسته وکړئ. وا لدین باید دد ې په هکله هم اطمینا ن حاصل کړي چې ماشوما ن ښوو نځي ته د پوره کا لیو سره ور سیږي ، ډو ډۍ یې خوړلې وي او چمتو وي چې درس زده کړي.

په انګلستا ن کې د قانون لحا ظه د ښوو نځي عمر د **۵** کلنۍ څخه تر **۱۲** کلنۍ پورې دی او ماشو مان چې د **۱۲** او **۱۸** کلو نو تر منځ وي باید پوره وخت په تعلیم یا کار کې و ي. د والدین په صفت تا سې مسؤ ل یاست چې اطمینا ن تر لاسه کړئ چې ستاسې ما شوما ن چې د ښوونځي پوره عمر ته رسیدلی وي هغو ی پوره وخت تعلیم تر لاسه کړ ي.

ځا یي قونسل دا صلاحیت لري چې د ښوو نځي حاضري تطبیق کړي ، په دې کې دا صلاحیت هم شامل دی چې هغه والدین محا کمه کړي چې ماشو مان یې په منظم ډو ل سره ښو ونځي ته نه حاضر کیږي.

که په هر کوم وخت کې تا سې نشئ کولای چې خپل ماشو مان ښوو نځي ته بوځئ او د ښوو نځي څخه یې را ولئ ، دا ستا سې مسؤ لیت دی چې ښوو نځي ته خبر ور کړئ. تا سې باید ښوو نځي ته زنګ وو هئ او خپل حالت هغوی ته تشر یح کړئ او هغه دلیل ور ته ووایئ چې ستا سې ماشوم ولې ښوو نځي ته نشي راتلای.

دد ې سر بېره چې تا سې ښوو نځي ته خبر ور کړئ تاسې باید د کور نۍ غړو او ملګرو سره ترتیبات ونیسئ تر څو دا خبره ډاډه شي چې ستا سې ماشوم په وخت باندې ښوو نځي ته حاضر کیږي او په وخت باندې د ښوونځي څخه پورته کیږي.

ستا سې ما شومان کولای نشي چې د تعلیم څخه پاتې شي ځکه چې تاسې نارو غ یاست. ستاسې د ماشوم تعلیم یو لومړ یتوب دی او ددې سره ستاسې د نورو کارونو له کبله غفلت نشي کېدلای.

## رو غتیا او ستا سې ماشوم

ستاسې د ما شوم رو غتیا د هغه /دهغې په وده کې یو بل مهم عامل دی او دا داسې یو عامل دی چې باید ډېره جدي ونیول شي.

په بریتا نیا کې د ټولو ماشومانو لپاره صحي خد مات مفت دي او دا د والد ینو مسؤ لیت دی چې اطمینان حاصل کړي چې د ماشوم د فزیکي او ذهني روغتیا ضرور تونه په منظم شکل سره پوره شي.

وا لدین یو مسؤ لیت لري چې اطمینان حاصل کړي چې دهغوی ماشو مان د جي پي GP داکتر ، د غاښو داکتر او د سترګو داکتر سره را جستر وي ، که امکان ولري بهتره به وي چې کوم ځای کې چې هغوی ژوند کوي هغه ته نږد ې وي.

که ستا سې ماشوم په جد ي توګه نارو غ دی یا ټپي دی یا د هغوی ژو ند په خطر کې وي ۹۹۹ ته زنګ ووهئ.

که ستا سې ماشو م په عا جله تو ګه طبي مر ستې یا مشورې ته اړ تیا لري او په دې حالت کې ژوند ته خطر مواجه نه وي ، د این ایچ ایس NHS ۱۱۱ شمېر ې ته زنګ وو هئ.

په منظم ډو ل سره چک کول د غا ښو داکتر ته اجازه ور کوي چې وګوري که ستا سې ما شو م د غاښو کوم مشکل ولر ي. او مرسته کوي چې د هغه / دهغې خوله صحي وسا تي. د ماشو مانو لپاره د غاښو مراقبت مفت دی. که ستا سې ماشو م اړتیا لر ي چې دهغه / دهغې ستر ګې چک شي یا نویو عینکو ته اړتیا لر ي ، د سترګو د داکتر سره ملا قات برا بر کړئ چې هغه وګو ري.

کله چې ستا سې ماشوم نارو غ وي ، تاسې با ید اطمینا ن حاصل کړئ چې هغه د جي پي **GP** داکتر له خوا وکتل شي. دا د منلو وړ نه دی چې تا سې ووا یئ چې تاسې فکر کولو چې ماشوم ښه و او ددې له کبله مو هغه داکتر یا عاجل بخش ته بو نه تلو. یو متخصص داکتر تر ټولو منا سب کس دی چې ستا سې د ماشو م کومه صحي مسله تصد یق کړي. که ستا سې ما شوم د نارو غۍ له کبله د ښو ونځي څخه لیرې وسا تل شي ، تاسې باید اطمینان حا صل کړئ چې چې ماشوم د ښو ونځي څخه لیرې ساتل کېدو څخه مخکې د یوې یو نورو ورځو لپاره د داکتر له خوا وکتل شي.

ماشو مان با ید د سترګو داکتر او د غا ښونو د داکتر سره د عمومي معاینا تو لپاره لږ تر لږه په کال کې یو ځل وکتل شي او د هغه څخه وروسته څنګه چې والدین منا سب ګڼي.

## د والدينو سرپرستي

**د والدينو په صفت تاسې بايد و پوهيږئ چې ستاسې ماشومان چيرې دي ، هغوی څه کوي او هغوی د چا سره دي ، دا د والدينو د مراقبت کولو ، مينه ښودلو او حفاظت کولو يوه مهمه برخه ده ،**

که ستاسې ماشومان د ډېر لږ عمر دي د ماشوم سره بايد مور يا پلار يا بل مسؤل بالغ کس موجود وي چې د ماشوم څارنه وکړي . که تاسې بل ماشوم پرېږدئ چې د يو لږ عمر ماشوم څخه څارنه وکړي ، تاسې بايد اطمينان حاصل کړئ چې هغه کافي بالغ وي چې مسؤلبت په غاړه واخلي. که د لږ عمر ماشوم باندې يو څه وشي ، دهغه مسؤليت به د والدينو په غاړه وي.

که تاسې په يو مشترک هستو ګنځي کې ياست ، د مثال په توګه په هوتل کې ياست ، تاسې بايد اطمينان حاصل کړئ چې ستاسې ماشوم خوندي وي او تاسې وپوهيږئ چې ستاسې ماشوم چيرې دی. هغه ماشومان چې عمر يې لږ وي بايد په دهليزو نو او لفت کې يواځې پرې نه ښودل شي،

په ښار کې د بيرو بار او د مجرمانو له خوا خطر ونه موجود دي چې غواړي د ماشومانو څخه ناروه ګټه واخلي ، نو ځکه تاسې بايد په ټولو و ختو نو کې د ماشومانو څخه څارنه وکړئ. د يوې مور يا پلار په توګه تاسې کولای شئ د مختلفو استرا تيژيو څخه کار واخلئ چې ماشومان وڅارئ او نظارت يې کړې ، د مثال په توګه د معلوماتو لپاره غوښتنه کول ، چک او تعقيب کول ، حدو د ټاکل او د خلاصو خبرو تشويق کول.

تاسې بايد په نظر کې ونيسئ چې په مختلفو حالتونو کې ستاسې د ماشوم لپاره کوم خطرونه موجود دي او چيرې چې خطر موجود وي تاسې بايد اطمينان حاصل کړئ چې لا نور نږدې څخه ستاسې د ماشوم نظارت وشي. کله چې پرېکړه کوئ چې څنګه د خپل ماشوم څارنه او نظارت وکړئ تاسې بايد په محلي سيمه کې خطرونه ، د ماشوم عمر او جنسيت او د هغه يا د هغې شخصيت په نظر کې ونيسئ.

اکثره والدين د خپلو ماشومانو د فزيکي موقعيت څارنه کوي ، او هم د خپل ماشو ذهني صحت او اصلاح چک کوي. دد ې ذهني څارنې ضرورت د ژوند په کليدي موقع ګانو او بدلو نونو کې شته.

تکنالوژي يوه ګټوره شی ده ، خو هم يو امکاني کواښ ده. ښه به وي چې دواړه تاسې او ستاسې ماشوم تليفون ولرئ چې کله ضرورت وي له يو بل سره تماس ونيسئ. خو تاسې هم بايد د خپل ماشوم د انترنت استعمال نظارت کړئ ځکه داد خطر يوه خاصه برخه ده.

## اطمينان حاصل کول چې ستاسې ماشوم يو ګرم او خوندي کور لري

**د يو مور يا پلار په صفت تاسې مسؤليت لرئ چې اطمينان حاصل کړئ چې ستاسې ماشوم يو ګرم او خوندي کور لري. تاسې مسؤل ياست چې د کرايې کور د قرار داد شرايط پر ځای کړئ ترڅو تاسې څخه ونه غوښتل**

شي چې کور خالي کړئ او دا چې اطمینا ن حا صل کړئ چې ستا سې ماشوم په خپل کور کې ځان خوند ي احسا سوي.

کله چې تاسې یو کور کرایه کوئ ستاسې د کرا یي کور په قرار داد کې به هغه نېټه چې تاسې کور ته کډه کوئ ، قرارد اد د ځومر ه مودې لپاره دی ، کرا یه څومره ده او څه وخت تاسې باید کرایه ورکړئ لیکل شوي وي.

د کرا یي کور په قرار داد کې دا هم لیکل شوی دی چې د کور مالک ددې په هکله چې کور څنګه وساتل شي څه ترجیع ورکو ي. په اکثرو موا ردو کې به د کور مالک لیکلي وي چې کور باید په پاک حا لت کې وساتل شي یا دا چې په هماغه پاک حالت کې هغوی ته وسپارل شي څنګه چې مخکې و.

د کور ما لکین شخصي کسان دي چې د بېرته مېشتېدو ټیمو نو ته اجازه ورکو ي چې ستا سې له خوا د هغوی څخه کور کرایه کړي.

## د کرا یه نشین مسؤ لیت

- کرا یه پر وخت پردا خت کړئ.
- د هر هغه بل لپار ه چې تاسې مسؤل یاست پر وخت باندې هغه تاد یه کړئ ، د مثال په توګه قونسل ټکس ، د ګاز ، برق او د اوبو بلونه. که تاسې د خپل ګاز او برق بلونه پردا خت کوئ ، تاسې کولای شئ پخپله د ګاز او برق شر کتونه انتخاب کړئ.
- د کور خیال وسا تئ ، ددې څخه مخکې چې کوښښ وکړئ چې په کور کې کوم ترمیم یا رنګ وکړئ ، د خپل د کور د مالک اجازه واخلئ. دا هم ارزي چې تاسې د لو ازمو لپاره بیمه واخلئ چې ستاسې شیان هم د خرابېدو په صورت کې بیمه کړي ، ځکه د د کور مالک بیمه به ستاسې شیان بیمه نه کړي.
- د ګاونډ یانو پر وړا ندې توجه وښیئ ، د ټولنیز عملکر د پر ضد چلند کېدای شي یو دلیل شي چې ستاسې د کور مالک تاسې د کور څخه وبا سي.
- دد ې څخه پرته چې تا سې چک نه کړئ چې آیا تاسې د کور مالک اجا زې ته اړ تیا لرئ او که نه ، په کور کې کومه کوټه په کرایه ور نه کړئ یا کور بل چا ته په کرایه ور نه کړئ.

کله چې د کور موضع مطرح وي په عمو مي توګه د کور ما لکین یو ډېر لوړ معیار ساتي ، کله چې د کور مالکین وایي چې هغه غواړ ي چې کور په اصلي حالت کې وسا تل شي ، اکثره وخت دهغوی مطلب دا وي دمثال په توګه تا سې دیوا لونو کې کوم تغیرا ت را نه ولئ ، په دیوا لونو باندې عکسو نه مه ځړو ئ که ددې لپاره تاسې باید په دیوال کې سوری جوړ کړئ ، په مجمو عي توګه کرایه نشین باید په کور کې یو شی اضافه نه کړي او د کور څخه کوم شی لیر ې نه کړ ي.

د کور مالکین دا نه زغمو ي چې کرا یه نشینا ن یا د هغوی ما شو مان په دیوا لو نو با ندې یو کوم ډول شی رسم کړي ، او وا لد ین با ید اطمینا ن حاصل کړي چې ماشو مان په فرنیچر یا دیوا لونو با ندې رسم و نه کاږ ي. که د والد ینو یا د هغوی د ماشو مانو له خوا کوم تاو ان رسیږ ي ، دهغه لپاره والدین مسؤ لیت لر ي.

## د خشونت څخه حفا ظت

د ۱۹۸۹ کال د ماشو مانو د قوانینو پر اسا س ، چارو اکي دنده لري چې دهغو ماشومانو ساتنه او حفاظت وکړي چې خشونت څخه ځور ول کیږ ي یا کېدا ی شي چې وځور ول شي.

ځینې ما شومان کېدا ی شي چې د خشونت لوړې کچې سره مخا مخ وي او هم که د ماشوم یو کس یا د مور او پلار جلا کېد نه تجربه کړی وي. خو د هغوی ښکاره مقا ومت دا سې و نه کتل شي چې هغوی دا توانا یي لري چې خپل پخوانۍ تجربې پرو سه کړي او په ژوند کې مخ ته ولاړ شي.

ما شومان دوامدا رې مرستې ته اړتیا لري چې خپل احسا سات کنټرول کړي او ورته لار ښودنه وشي چې مسؤل بالغ کس ځینې جوړ شي ، او وا لدین باید قا بلیت ښکاره کړي چې د خپلو ماشو مانو حفاظت وکړي تر څو د نور خشو نت آمیزو شیانو سره مخامخ نشي ، د مثال په توګه ددې مخنیوی وکړي چې هغوی د خشونت څخه ډک فلمونه ونه ګوي ، په خبرونو کې خشونت ونه ګو ري ، هغه خشونت آمیزې ویډیو ګانې چې د ملګرو له خوا لیږل کیږي هغه ونه ګوري ، او د خشونت آمیزو ویډیو ګیمونو څخه ساتنه. وا لدین ددې لپاره هم مسؤ ل دي چې د خپلو ماشو مانو ذهني او فزیکي ودې لپاره ضرو ري ملاتړ او مراقبت برابر کړ ي.

## خپل ماشوم د یسپلین او سر زنش کول

یو ماشوم د یسپلین یا سر زنش کول او کومې طریقې چې په هغه کې کار ول کیږي ، د وا لدینو او د ماشوم د مراقبت د مسکلي کسانو تر منځ ډیر ي وخت متضاد دلیلو نه را منځته کوي ، په خاصه توګه کله چې ماشوم په فزیکي ډول سره و هل کیږ ي. تر څو خبره واضح شي ، د قا نون پر اساس دا غیر قانو ني دی چې یو مور یا پلار یا د ماشوم مراقبت کوو نکی یو ماشو م وو هي ، یوا ځې په هغه حالت کې دا غیر قانو ني نه دی چېرې چې دا یو ْمناسبه جزا ْ وي.

کله نا کله ماشو م د سر زنش لپاره وهل کیږ ي ، او دا سې استد لال کېدا ی شي چې د وهلو کومه طر یقه یو ماشوم باند ې یو ډول تا ثیر لري او بل ما شوم باندې بل ډول تاثیر لر ي. د مناسبه جزا ورکولو لپاره د ماشو مانو وهل به د هرې انفرا دي قضیې عواملو پورې تعلق ولر ي ، داسې عوامل لکه د ماشو م عمر او د وهلو طریقه باید په نظر کې ونیول شي.

د ښوو نکو ، د وړکتون د کار کوونکو او د ما شومانو د مراقبت کار کوونکو لپاره غیر قانو ني دی چې د بل چا ماشوم وو هي.

د ځينو جرمونو لپاره يو ه مور يا پلار کېداى شي د جرمي جنايت لپاره محکوم شي که هغوی خپل ماشوم ته دا ډول تاو ان ورسوي ، په هغه کې دا شامل دي: ماشوم ټپي کول او ماشوم ته سخته جسمی زيان رسول ، حقيقي جسمي زيان رسول يا د ماشوم پر واړندې ظلم کول.

## کورنۍ خشو نت

په بريتا نيا کې کورنۍ خشونت يو جد ي جر م دی. هر څوک چې د خپل همسر ، ښځې يا مېړه ، يا د کورنۍ بل غړي په مقابل کې د زور څخه کار واخلي ، دا فرق نه کوي چې هغه کس ښځه دا يا سړی دی ، واده شوي دي يا يو ځای ژو ند کوي ، هغوی کېدای شي محا کمه شي.

په عمو مي توګه کورنۍ خشو نت په کو ر کې ترسره کيږي او دا کولای شي څو ډولونه ولري:

- دا کېدا ی شي په ناوړ ه توګه فزيکي وهل وي ، لکه وهل ، په لغته وهل يا د وربښتا نو کشول.
- په دې کېدای شي ذهني خشونت ښکېل وي ، لکه ويرونه(بلک مېل Blackmail ) ، رواني شکنجه او تهديد ورکول چې يو څوک نور د ځان ونه ګڼي او هغو کسانو ته زيان رسو ل چې دا کس د هغوی په هکله پروا کوي.
- دا کېدای شي د کنټرول کولو له لارې وي ، د مثال په توګه د يو کس حرکا ت يا يو شوي ته لاسرسی يا د کورنۍ يا ملګرو سره تماس محدود ول ، يا د يو چا مخه ونيسي چې پيسو يو د خپلې خوښې رشتې ته لا سر سی ولر ي.
- دا کېدای شي يو جبري چلند وي ، د مثال په توګه تهديد ورکول ، شرمند ه کول يا ډارول تر څو يو کس ته زيان ور سوي ، جزا ور کړي يا وډا روي.
- دا کېدای شي جنسي تيری وي – د واده شوی مطلب دا نه دی چې يو هسمر د بل همسر د خوښې پرته هغوی سره په زوره جنسي رابطه ونيسي.

که ماشو مان کورنۍ تشدد په خپلو سترګو وګوري دا کېدای شي د ماشوم آزرول وګڼل شي او ددې په هکله به اجتماعي خدمات پلټنه وکړي.

## د ماشو مانو په حضور کې سګر يټ څکول

د ماشو مانو په حضور کې يا حتا په هغه کور کې چې ماشو مان ژون کوي سګريټ څکول يوه مسله ده او که والد ين د سګريټ عمليان وي دا کېدای شي چې د شخړې سبب وګر ځي.

که څه هم کله چې ماشو مان په موټر کې موجود وي سګريټ څکول منع دی ، خو تر او سه کوم داسې ملي قانون وجود نه لري چې په ټولو عامو ځايونو ، کاري ساحو او هغو سيمو کې چيرې ماشو مان د دې څخه ځان نشي

ساتلای ، لکه د موټر با کور دننه ، چېرې چې په غیر ارادي توګه ماشومان دې سره مخ دي ، د سګرېټ د دود څخه د ماشومانو ساتنه وکړي.

په بریتا نیا کې دنوي قانون په اساس که په یو موټر کې یو څوک موجود وي چې عمر یې تر ۱۸ کالو کښته وي ، په هغه موټر کې سګرېټ څکول غیر قانوني دی. اوس دا هم د قانون په ضد دی که یو موټر چلوو نکې په داسې حالت کې بل څوک د سګرېټ څکولو څخه ونه دروي. د دواړو جرمونو لپاره جریمه £۵۰ ده.

د تېرې لسېزې په اوږدو کې ساسنسي څېړنې په زیاتېدو نکې توګه ښکاره کړې ده چې د بل چا د سګرېټ دود تنفس کول یوازې مزاحمت نه دی بلکه دا وژونکی دی.

- په ماشو مانو کې د بل کس د سګرېټ دود د متعددو ناروغیو سبب ګرځي ، د نفس تنګی او د سږو پړسوب په شمول ، او ددې په نتیجه په زرګونو خلک چې باید شفاخانې ته بستر نشي هغوی بستر کیږي.
- د بل جا د سګرېټ دود تنفس کول د نوزادو ماشومانو د ناڅاپه مرګ یو لوی سبب دی او په تکرار شکل سره دا ډول دود تنفس کول د سرطان د ناروغي او قلبي حملو سبب ګرځي.
- د سګرېټ د دود د تنفس کولو لپاره کومه خوندي کچه موجوده نه ده.

د مکررو خبرداریو باوجود ، په قصدي او ناخواسته توګه ماشومان پرېښودل چې د بل چا د سګرېټ دود تنفس کړي ، په داسې حال کې چې دا د سرطان د ناروغي یو پیژندل شوی لا مل دی ، دا د ماشومان آزارول دی. نو که ستاسې ماشوم کوم مکروب لري او تاسې په دې پوهېدلای او بیا هم د ماشوم حالت د خپل سګرېټ څکولو له کبله خراب کړ ، کېدای شي تاسې ددې لپاره محا کمه شئ.

د ماشوم آزارول داسې تشریح شوې ده "که یوه مور یا پلار یا مراقبت کوونکي په دې وروستیو کې داسې یو عمل ترسره کړي یا ضروري عمل ترسره نه کړي چې نتیجه یې مرګ ، جدي فزیکي یا ذهني نقصان ، په ناوړه توګه جنسي ګټه اخیستنه یا سؤ استفتاده وي ، یا داسې عمل یا داسې ضروري عمل نه تر سره کول چې د ژرپېښېدونکې د جدي نقصان خطر مخه ونیسي."

تر ټولو بهترین مشوره دا ګڼل کیږي چې په ټولو هغو حالتو نو کې سګر یټ ونه څکول شي چیرې چې ماشوما ن موجود وي او په داسې حا لتونو کې د نورو کسانو د سګرېټ څکولو مخنیوی وشي.

## کلتوري تو پیرونه

### د ماشوم آرزو ګانې او احسا سونه

د ځینو مهاجرینو لپاره کېداې شي عجیب معلوم شي چې کله نا کله د هغوی اجازه اخیستل کیږي تر څو د هغوی د ماشو مانو څخه د هغوي د آرزو ګانو او احساسونو په هکله وپوښتل شي. یو ځل بیا ، د ماشومانو د

قوانینو په اساس ، کله چې د ماشوم په هکله هره کومه پرېکړه نیول کیږي ، یو څوک باید د ماشوم آرزوګانې او احساسو نه په نظر کې ونیسي او د ماشوم عمر او پوهه په نظر کې ونیو ل شي. خو چاروا کي هم د نده لري چې د ماشوم د ګټې لپاره عمل وکړي او د دې معنا کېدای شي دا وي چې د هغوی عمل د ماشوم د آرزو ګانو په خلاف وي.

قانون تشخیص کوي چې کله بالغین کوښښ کوي مشکلات حل کړي او د ماشومانو په هکله پرېکړې وکړي ، ماشومان باید داسې احساس ولري چې هغوی په هغه پروسه کې د یو فعال ګډون کوونکی په توګه ښه سهم ولري. کله چې د ماشوم د راتلو نکې په هکله پلان جوړ یږي ، که هغه ماشوم پوه شي چې څه کیږي او د شروع څخه هغه ته غوږ نیول شوی وي ، امکان لري چې هغه ماشوم د ډار کمتر احساس وکړي

ددې سر بیره قانون تشخیص کوي چې ډیری ماشوما ن پوهیږی چې کوم شی د هغوی د مشکلا تو سبب ګرځي او کوم شی د هغوی د ضرورتونه عامل دی.

کېدای شي هغوی فهم ولري چې کوم شی به ګټه وکړي او کوم شی به ګټه ونه کړي ، دا د هغوی د او سني حالت او چاپیریال پورې اړه لري.

هغوی اکثره پوهیږي چې څه ډول مرستې ته به هغوی ډیر ارزښت ورکړي او وکړای شي چې هغه ته لاسرسی ولري ، او ماشو مان په مسایلو کې شاملول ددې سره مرسته کوي چې هغوی په خپلو مشکلاتو پوه شي ، خپلو قوتونه ته وده ورکړي او خپل د مقاومت توانایي ته انکشاف ورکړي.

## د ښځو د تناسلي آلې ختنه

په بریتانیا کې د ښځو د تنا سلي آلې ختنه کول **Female Genital Mutilation (FGM)** چې د کټ کول یا ختنه کول په نامه هم یادیږي غیر قانوني دی. ختنه **FGM** ترسره کول یا نجلۍ یا ښځه د ختنه کولو لپاره بهرني هیواد ته بېول یو جرمي جنایت دی چې د قانون په اساس سزا لري.

که تاسې د ختنې FGM قرباني یاست ، تاسې باید د خپل داکتر سره خبرې وکړئ. داسې داکتران موجود دي چې خاصه روزنه لري چې د ختنې FGM د قربانیانو سره مرسته وکړي. تاسې کولای شئ چې د ګڼ شمېر وملي سازما نو نو یو سازمان څخه د مشورې غوښتنه وکړئ ، د مثال په تو ګه NSPCC څخه چې شمېره یې 0800 028 3550 ده. هغه ماشو مان چې اند ېښنه لري چې هغوی د ختنې د خطر سره مخامخ دي کولای شي چې د پولیسو ، ښوو نکو ، ټولنیزو کار کوونکو سره خبرې وکړ ي

## واده

د حقوقي او مذهبي واده تر منځ فرق شته. مذهبي ودونه په رسمي توګه نه پیژند ل کیږي بې له دې چې د حکومت له خوا ثبت شي. ځینې ودونه په بریتانیا کې په رسمي ډول نه پیژندل کیږي او هغه کسان چې دا ودونه کوي هغوي باید حقوقي ودونه هم ترسره کړي.

په بریتانیا کې د واده لپاره قانوني حد اقل عمر ۱۶ کاله دی.

په انګلستان کې د ۱۶ او ۱۸ کلنی عمرونو تر منځ تاسې د خپلو والدینو رضا یت ته اړتیا لرئ تر څو چې واده وکړئ.

په انګلستان کې دا قانوني دی او منل کیږي چې سړی د ښځې سره واده وکړي ، ښځه د بلې ښځې سره واده وکړي ، او سړی د بل سړي سره واده وکړي. ددې ټولو ودونو حفاظت د قانون به خوا کیږي.

یو واده باید هغه وخت تر سره شي چې دواړه کسان چې پکې شامل دي دهغوی پوره او آزاد رضایت په هغه کې وي.

هغه ودونه چې د کورنیو له خوا تنظیم کیږي ، په هغه صورت کې چې دواړه خواوې د واده لپاره رضایت ولري ، په بریتانیا کې د منلو وړ دی.

اجباري ودونه (چې په هغه کې هغه ودونه هم شامل دي چې یو کس د والدینو له خوا فشار احساس کوي ) هغه ودونه دي چې یو کس یا دواړه کسان خپل رضایت نه ورکوي یا کولای نشي چې خپل رضایت ورکړي یا په هغه حالت کې چې په چا باندې زور اچول یو عامل. یو بل څوک د واده لپاره مجبورول یو جرمي جنایت دی. والدین کولای نشي چې خپل ماشومان واده ته مجبور کړي. دا هم یو جرم دی چې یو څوک د هیواد څخه بهر بوتلل شي او مجبور کړای شي چې واده وکړي.

## د عزت پر اساس تشدد

په بریتا نیا کې دا غیر قا نوني دی چې یو چا ته د کلتوري لاملونو یا د کورنۍ د عزت د لاملونو په اساس آزاد یا تاوان ورسیږي ، دا فرق نه کوي چې هغه کس د هماغه کور ني غړی وي او که نه. د مثال په توګه دا غیر قانوني دی چې یو څوک د بې عزت چلند له کبله د کورنۍ بل غړي ته جزا ورکړي. په بریتا نیا کې دا سې سړي او ښځې شته چې د عزت د لاملو نو له کبله د کور نۍ غړو ته زیان رسولي دي او د هغه لپاره هغو محاکمه شوي دي او زندان ته لیږدول شوي دي

که تاسې د عزت د لاملونو له کبله د تشدد په هکله اند ېښمن یاست ، تاسې کولای شئ چې د پولیسو سره خبرې وکړئ.

په بریتا نیا کې هر څوک حقوق لري او دد ي حقوقو حفا ظت د قانون له خوا شوی دی. هر څوک دا مسؤ لیت هم لري چې د قانو ن احترام وکړي.

کېدا ی شي دلته قانون د هغه ځای په پر تله چې تاسې ځینې راغلي یاست مختلف وي ، نو تاسې باید اطمینان حاصل کړئ چې پوه شئ چې په بریتا نیا کې څه شی قانو ني دی او څه شی غیر قانو ني دی.

## نژاد پرستي او تبعیض

په بریتانیا کې دا غیر قانو ني دی چې یو چا سره د هغوی جنسیت ، نژاد ، مذهب ، عمر ، معیوبي یا جنسي تمایل له کبله مختلف چلند وشي. په برینا نیا کې تبعیض د منلو وړ دی. دا یو جدي جرم دی چې یو څوک د هغوی د نژاد له کبله ټپي شي ، وځورول شي یا په خبرو له لارې هغه ته ناوړه شیان وویل شي ، یا د غه دلیل لپاره د هغوی ملکیت ته تاوان ورسیږ ي.

دا هم د قانون خلاف دی چې نژا دي تنفر وپارول شي. دا د منلو وړ نه دی چې د یو چا په خلاف د هغوی د نژاد ، قومیت له کبله یا د کوم ځای څخه چې راغلي وي ددې له کبله ورسره تبعیض وشي. کله چې تاسې د کار لپاره درخواست کوئ ، د اوسېد و لپاره یو کور لټوئ ،کله چې د ملي صحي خدما تو یا کومې تعلیمي ادار ې څخه استفاد ه کوي ، تاسې سره باید په مختلف ډول سره چلند و نه شي.

تاسې نه باید په کار ، ښوونځي یا عمومي ځایونو کې د تبعیض آزار تجربه کړئ (په هغه حالت کې چېرې چې خلک ستاسې د نژاد له کبله یا ددې له کبله چې تاسې د کوم ځای څخه راغلي یاست یوه اظهار نظر وکړي چې تاسې لپاره توهین آمیز وي یا تاسې ناراحت کړ ي. ) که تاسې یا داسې څوک چې تاسې یې پیژنئ د تبعیض قرباني وي ، د دې په هکله د چارواکو سره خبرې وکړئ.